# دَ فيليمون په نُوم دَ پولوس رسُول خط

## سلام

۱ دَ پولوس له طرفه چه دَ مسيح عيسىٰ له خاطره په قيد
کښې دے اَؤ دَ ورور تيموتيوس له طرفه، خپل ګران اَؤ
ملګرى فيليمون ته، ۲ اَؤ خور افيه اَؤ خپل ملګرى اَؤ دَ
مسيح سپاهى ارخيپوس اَؤ دَ فيليمون دَ کور دَ جماعت په
نُوم،

۳ زمُونږ دَ خُدائے پلار اَؤ مالِک عيسىٰ مسيح دَ طرفه دِ
فضل اَؤ سلامتى تاسو ته حاصله وى.

## دَ فيليمون مينه اَؤ ايمان

۴ زَهٔ هميشه دَ خپل خُدائے شکر کوم اَؤ تا په خپلو
دُعاګانو کښې يادوم، ۵ ځکه چه ما ستا دَ هغه مينے اَؤ
ايمان په حال آؤريدو چه تهٔ ئے دَ ټولو پاکانو اَؤ عيسىٰ مسيح
سره لرے، ۶ دَ دے دَ پاره چه ستا دَ ايمان شراکت زمُونږ
دَ هر خوئ په پيژندو کښې دَ مسيح دَ پاره اثر ولرى. ۷
ځکه چه اَئے وروره! ما ته ستا په مينه ډيره خوشحالى اَؤ
تسلى شوے ده ځکه چه ستا په سبب دَ پاکانو زړُونه تازه
شوى دى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پولوس دَ اونیسیموس دَ پاره سفارش کوی

۸ نو اګر که زَۀ په مسیح کښې ښۀ زړه ور یم چه تا ته دِ
مُناسب حُکم درکړم، ۹ خو ما ته دا زیاته غوره ښکاری
چه زَۀ بوډا پولوس بلکه په دے وخت کښې دَ مسیح عیسیٰ
له خاطره چه په قید کښې یم، ۱۰ دَ مینے په سبب درته دا
سوال کوم چه دَ خپل زوئے اونیسیموس په حقله، څوک چه
دَ قید په حالت کښې په رُوحانی طور زما نه پیدا شو، درته
دا خواست کوم. ۱۱ اول خو هغه ستا دَ څۀ کار نۀ وو،
ولے اوس ستا اَؤ زما دواړو دَ کار دے.

۱۲ نو ما په خپله هغه، یعنے زما دَ سترګو تور، تا ته
دراستولے دے. ۱۳ هغه خو ما ځان سره پاتے کول غوښتۀ
دَ دے دَ پاره چه ستا له طرفه زما خدمت وکړی، چه دَ
زیری دَ خاطره په دے قید کښے یم. ۱۴ خو ستا دَ مرضۍ
نه بغیر ما هیڅ داسے کار کول ونۀ غوښتل، دَ دے دَ پاره چه
ستا نیک کار دَ مجبورۍ په وجه نه، بلکه دَ خوشحالۍ سره
وی.

۱۵ ځکه چه کیدے شی چه اونیسیموس ستا نه دَ دے دَ
پاره لږ وخت له جُدا شوے وی چه بیا تل دَ تا سره وی. ۱۶
خو اوس ئے دَ غُلام په شان نه، بلکه دَ غُلام نه غوره، یعنے
دَ یو خوږ ورور په شان چه هغه په ما ډیر ګران دے، ځکه
چه هغه غُلام هم اَؤ په مالِک کښے ورور هم دے، نو ځکه په
تا دِ هم ډیر زیات ګران وی.

۱۷ نو کۀ تۀ ما خپل شریک ګڼې نو دَئے داسے قبُول کړه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لکه ما، ۱۸ اَؤ که دَهٔ چرے ستا څهٔ نُقصان کړے وی اَؤ یا
پرے ستا څهٔ پور وی نو هغه ما پسے ولیکه. ۱۹ زَهٔ پولوس
درته دا په خپل لاس لیکم چه په خپله به ئے ادا کړم، اَؤ دَ
دے وینا هیڅ جاجت نِشته چه زما چه په تا څهٔ پور دے هغه
هم تهٔ ئے. ۲۰ اَئے وروره! دَ مالِک دَ خاطره په ما مهربانی
وکړه اَؤ په مسیح کښے دَ یو ورور په حیثیت په دے کار
کښے ما خوشحاله کړه.

۲۱ تا ته په لیکلو زما باور دے چه تهٔ به زما درخواست
پُوره کړے، بلکه دَ هغے نه هم زیات. ۲۲ دَ دے نه علاوه
زما دَ ایساریدو دَ پاره یوه کوټه تیاره کړئ ځکه چه زما اُمید
دے چه ستاسو خلقو دَ دُعاګانو په جواب کښے خُدائے به
مے بری کړی اَؤ تاسو ته به مے دروړسوی.

## آخری سلامُونه

۲۳ اِپفراس چه دَ مسیح له خاطره ما سره قیدی دے تا ته
سلام وائی، ۲۴ اَؤ مرقوس، اریسترخوس، دیماس اَؤ لُوقا
هم چه په کار کښے ما سره ملګری دی.

۲۵ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح فضل دِ ستاسو ټولو سره
وی.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.